مصطفی پسرلی ۲۰۱۷/۰۷/۲۰

# غـــــزل

## د قدم خاورې

لـویـه دشـتـه د فـراق کـې پریشان یـم

ستا د ښکلي مخ لیدو ته په ارمان یـم

دا عـالـم مې مسخـره او مجنون بولي

زه دا ستا د قدم خاورې خو انسان یـم

دغه خپلي بې وسی ته ورو ورو ژاړم

چې سکون نلرم هروخت سرګردان یـم

کوم قانـون کـوم عـدالت ته پناه یـوسم

سکه ورور نه شوم جدا پـه بیابان یـم

رنګارنګ رنګونه نشته دي بې رنګ شوم

د رنګـونـو په دنیا کې پـه بل شان یـم

هر طرف ما کې غمونه را سرګند شو

زه د درد او د پرهر په لار روان یـم

"پسرلی"، پسرلی نه دی خزان شوی

ستا تصویرسره لګیا په ښه خفګان یـم



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com